مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۹ د زمري ۲۶مه | د ۲۰۲۰ د اگست ۱٦مه | ۵۸۱مه گڼه

# ولس د پاکستان پر وړاندې؛

## لاريون كوونكي: پر حكومت د معاملې شک لرو، پخپله د پاکستان اغزن سيم ټولوو



۳

د بين الافغاني خبرو ځنډول د زغم وړ نه دي
۲ مخ

د سولې په راوستو کې د ولس ونډه او تلپاتې سوله
۲ مخ

سندرم بینایی کمپیوتری یا CVS چیست؟ چطور با آن مقابله کنیم؟
۳ مخ

## ټايم مجله: د ټرمپ د پرله پسې فشارونو له كبله ولسمشر غني د بنديانو خوشې كېدل ومنل

ټايم مجلې د افغانستان په تړاو په يوه اوږده راپور كې ليكلي چې ټرمپ له افغانستان څخه د خپلو ځواكونو وتلو ته دومره بېړه لري چې نه پوهېږي اقدامات يې څومره دقيق دي.

په راپور كې راغلي چې ټرمپ د خپلو ځواكونو د وتلو لپاره پر افغان حكومت هم فشار راوړ، څو پنځه زره هغه خطرناک طالب جنگيالي له بنده خوشې كړي چې افغانستان، اروپا او حتى امريكا ته گواښ پېښولى شي. په راپور كې دغه راز راغلي چې د امريكا حكومت د طالبانو د مالي پلار (بشير نورزي) له خوشې كولو سره هم توافق كړى چې دې چارې بيا اروپا ته گڼې اندېښنې پيدا كړې دي. راپور كاږي، نورزى د مخدره توكو هغه ستر قاچاق كوونكو و، چې په يوازې سر يې هم د طالبانو جنگي ماشين چلولى شو، خو د ټرمپ د بېړې له امله له ابدي حبس څخه ازادېږي. د راپور په يوه برخه كې راغلي، د افغان حكومت په بند كې د پاتې ۴۰۰ طالب زندانيانو د خوشې كېدو په تړاو راغوښتل شوې تش په نوم لويه جرگه له مسووليته د ولسمشر غني د تېښتې لپاره جوړه شوې وه؛ ځكه چې ټرمپ په وار وار د خپلو مامورينو له لارې پر ولسمشر غني فشار راوړى و، څو هر څومره ژر بايد پاتې طالب زندانيان خوشې كړي. د راپور په وروستۍ برخه كې د ناټو د دوو لوړپوړو چارواكو له قوله راغلي چې د ځواكونو د ايستلو په برخه كې د ټرمپ بېړه به اروپايي ټولنه او ناټو سخته اغېزمنه كړي.

## بشري حقونو كمېسيون: د سولې په پروسه كې دې د جگړې د قربانيانو استازو ته هم ځاى وركړل شي



۵ مخ




كابل دريمه ناحيه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com


2 017550 139621

پوهنتون
۴ مخ

## امام محمد شيباني د لوړو زده كړو خصوصي موسسه

د دې موسسې اداره وايي، د خپلو محصلينو او استادانو د وړتياوو لوړولو په موخه يې د تاجكستان او ازبكستان هيوادونو له ځينو پوهنتونونو سره د هوكړو لاسليكولو هڅې پيل كړې دي.

## كرنې رياست: په پكتيا كې د ۳.۲ ميليونو افغانيو په لگښت د شيدو ټولولو او پروسس لوى مركز جوړېږي



د پكتيا د كرنې او مالدارۍ رياست وايي، چې د دغه ولايت په مركز گرديز كې د شيدو ټولولو او پروسس د يوه ستر مركز د جوړولو د بنسټ ډبره كېښودل شوه.
د پكتيا مرستيال والي عبدالولي سهي په دې تړاو جوړې شوې غونډې ته ويلي چې د شيدو ټولولو او پروسس ياد مركز به د مالدارانو د لبني محصولاتو د عرضه كولو ستونزې هوارې او د مالدارنو عوايد به ور سره زيات شي.
په همدې حال كې د پكتيا د كرنې رييس انجنير محمدالدين مومند ويلي، د شيدو ټولولو دغه مركز چې د كرنې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه جوړېږي، د جوړولو لگښت يې ۳.۲ ميليونه افغانۍ دى. دغه مركز چې په ۲۴ ساعتونو كې تر پنځه زره لېترو شېدو د ټولولو او پروسس په وړتيا سره جوړېږي، عصري خونې، د زېرمې خونه او گدام لري. د مومند په خبره، د ياد مركز د جوړولو موخه د مالدارۍ د توليداتو له لارې د خوړو خونديتوب دى.

## ديده‌بان شفافيت: حكومت در پس‌گيرى زمين‌هاى غصب شده ناكام بوده‌است



ديده‌بان شفافيت افغانستان مى گويد كه حكومت و نهادهاى عدلى و قضايى افغانستان در پس گيرى زمين‌هاى غصب‌شدۀ دولتى ناكام بوده‌اند. يک محقق اين نهاد، مى‌گويد با آن‌كه بارها رئيس‌جمهور تعهد كرده‌است كه هويت غاصبان زمين‌هاى دولتى افشا خواهد شد اما هنوز روشن نكرده‌است كه زمين‌هاى غصب‌شدۀ دولتى كدام‌ها استند تا از ادامۀ غصب اين زمين‌ها جلوگيرى شود. رئيس‌جمهور غنى در ماۀ جدى سال گذشته دستور داد كه نام‌هاى غاصبان زمين‌هاى دولتى در كشور افشا شوند و آن‌ها ممنوع‌الخروج ساخته شوند؛ اما با گذشت حدود هشت ماه از اين فرمان رئيس‌جمهور، هنوز هويت كسانى كه در غصب زمين‌هاى دولتى دست دارند افشا نشده‌است. ناصر تيمورى، محقق ديده‌بان شفافيت افغانستان بيان داشت: «سيستم عدلى و قضايى و نظام دولتى افغانستان در مقابل پيگيرى پرونده‌هاى بزرگ غصب زمين عملاً فلج بوده‌است. حكومت افغانستان با وجود تعهدات پى‌هم حداقل دست‌آوردها را در اين زمينه نداشته‌است.»
وزارت شهرسازى و اراضى، مى گويد كه ۱۵ هزار و ۸۳۰ تن را كه شامل زورمندان محلى و افراد با نفوذ استند به اتهام غصب جايدادهاى دولتى، حدود دو سال پيش به نهادهاى عدلى و قضايى معرفى كرده‌است. حشمت ناصرى، سخن‌گوى وزارت شهرسازى و اراضى گفت: «فهرست پانزده‌هزار و ۸۳۰ تن كه به غصب زمين متهم بودند به ارگان‌هاى عدلى و قضايى فرستاده شده تا دوسيه‌هاى شان بررسى شود و كسانى كه عملاً در پروسۀ غصب زمين دخيل استند طبق قانون همراى شان برخورد صورت بگيرد.»

## دریــځ

### د بین الافغاني خبرو ځنډول د زغم وړ نه دي

د سولې د مشورتي لویې جرگې له پرېکړې وروسته تمه وه چې حکومت به ژر د جرگې پرېکړه ومني، بندیان به خوشې کړي او له ژمنې سره سم به په یوه اونۍ کې بین الافغاني خبرې پیل شي. دا دی یوه اونۍ پوره کېږي، خو نه یوازې دا چې د سولې خبرې پیل نه شوې، بلکې د بندیانو د خوشې کولو په تړاو د جرگې پرېکړه هم عملي نه شوه. له دې سره داسې وېره ده چې ښایي د بین الافغاني خبرو پیل لا نور هم وځنډېږي او ورسره جگړه وغځېږي.

جرگې ته وویل شول چې د طالبانو خوشې کېدونکي بندیان خطرناک دي، خو خوشې کول یې د بین الافغاني خبرو د پیل سبب کېږي، چې له همدې امله جرگې یې خوشې کول ومنل. اوس حکومت یوازې ۸۰ بندیان خوشې کړې دي او نور همداسې پاتې دي. اشرف غني کله وایي چې دا بندیان خطرناک دي او د نړۍ او افغانستان امنیت گواښي او کله هم نورې پلمې کوي. ارگ د دې لپاره چې د خبرو پیل وځنډوي، نوې پلمې جوړوي. اوس که ارگ دا بندیان نه خوشې کوي او یا یې د خوشې کولو لپاره شرایط لري، نو بیا د جرگې رابلل، لگښت او د ولس رایه څه مانا لري!؟ له بده مرغه دوی د ولس په رایه او جرگه هم ملنډې وهي او کله چې جرگه د دوی د تمایل خلاف پرېکړه کوي، نو بیا یې په عملي کولو کې خنډ او ځنډ پیدا کوي.

د بندیانو د خوشې کولو په اړه د ارگ دریځ او کړنې په عملي ډول د بین الافغاني خبرو پیل ځنډولی دی. د بین الافغاني خبرو ځنډ د جگړې او افغان وژنې د دوام او د سولې د مخالفت په مانا دی. ارگ چې د دې ځنډ لپاره کوم دلایل تراشي، هغه نه معقول دي او نه هم سم. له همدې امله د جگړې او ټولو وژنو پړه یې پر غاړه ده او په دې تړاو به له چاراکو سره حتمي حساب کېږي.

دا سمه ده چې په ځینو مسایلو کې طالبان هم پړه دي، دریځ یې سخت دی، خو معلوم دی او واضح دریځ لري. حکومت له بده مرغه بیا بیا خپل دریځ بدلوي، سرې کرښې باسي او بیا یې رنگوي. گډوډې او متضادې خبرې کوي او واضح دریځ نه لري. که حکومت واضح دریځ ولري او له خپله اړخه د سولې په برخه کې گامونه واخلي، نو بیا که طالبانو مخالفت کاوه او ستونزه یې جوړوله، نو مسوولیت به یې پر غاړه وي او خلک به پرې فشار راوړي. اوس خو له بده مرغه حکومت خپله دنده نه ترسره کوي، ستونزې او خنډونه جوړوي او واضح ښکاریږي چې د سولې د بین الافغاني خبرو د پیل پر وړاندې خنډونه جوړوي.

ولس د سولې مخالفت او د بین الافغاني خبرو ځنډ نه شي زغملی. له همدې امله دواړه اړخونه او په ځانگړې ډول حکومت باید دا درک کړي. که دا حالت دوام وکړي، ولس به مجبور شي چې یو گام واخلي او د هغوی پر ضد ودرېږي چې د سولې مخالفت کوي او د خبرو د پیل او بریا پر وړاندې خنډونه جوړوي.

# افغانستان او د نړیوالو مشترکو سیندیزو حوزو اړوند د ملگرو ملتونو ۱۹۹۷ کنوانسیون؛ فرصتونه او اندېښنې

ژباړنه: برکت الله آریوبي

**دویمه برخه:**

د کنوانسیون اصلي مفاد: دا کنوانسیون ۳۷ مادې لري چې په ۷ برخو کې تنظیم شوې دي. لومړۍ برخه مقدمه، دویمه برخه عمومي اصول، درېیمه برخه پلان شوي اقدامات، څلورمه برخه حفاظت، ساتنه او مدیریت، پنځمه برخه اضطراري حالات، شپږمه برخه متفرقه موارد او اوومه برخه د داورۍ او اختلافاتو حل ته ځانگړې شوې ده.

د دې کنوانسیون اصلي مواد په لومړۍ، دویمه، درېیمه او څلورمه برخه کې دي. لومړۍ برخه یې د نړیوالو مشترکو سیندیزو حوزو اصطلاح تعریف ته ځانگړې شوې. دویمه ماده، د آبراهه اصطلاح د یو سیستم په بڼه چې سطحي او ځمکې لاندې اوبو ته شاملېږي، تعریف کړې چې د فزیکي اړیکو له کبله یو واحد تشکیل جوړوي او یوې مشترکې نقطې ته رسیږي. د نړیوالو آبراهه اصطلاح یې هم «د هغه آبراهه څخه عبارت ده چې ځینې برخې یې په هېوادونو کې وقاع شوې وي»، تعریفوي.

ضمناً کنوانسیون په ۳مه ماده کې کاږي چې هغه پروتوکولونه او موافقتنامې چې مخکې له مخکې د هېوادونو تر منځ رامنځته شوې دي، د دې کنوانسیون پر مقرراتو ارجحیت لري.

پنځمه ماده له نړیوالې سیندیزې حوزې څخه د منصفانه او معقولې گټه اخیستنې په اړه ده چې د کنوانسیون اساسي ماده ده. همدې اصل ته په پام، هېوادونو د نړیوالو مشترکو سیندیزو حوزو د گټې اخیستنې په برخه کې د منصفانه او معقولانه گډون څخه برخمن دي.

٦مه ماده له نړیوالو سیندیزو مشترکو حوزو څخه د منصفانه او معقولانه گټې اخیستنې عواملو ته پام کوي. د دې عواملو وزن او کارونې شرایط، کټ مټ لکه د هلیسنگي قواعدو مندرج شرایط تشکیلوي، لیکن دا عوامل لږ څه له هغوی سره توپیر لري.

دا عوامل عبارت دي له: ۱. جغرافیایي، هایدروگرافي، هایدرولوژیکي، اقلیمي، چاپیریالي او د حوزې نورو طبیعي عوامل پورې اړوند شرایط؛ ۲. د اړوندو هېوادونو ټولنیز او اقتصادي شرایط؛ ۳. د حوزې اړوندو هېوادونو کې په اوبو پورې تړلی جمعیت یا نفوس؛ ۴. د حوزې په مسیر کې د یو هېواد له لوري له اوبو څخه د گټې اخیستنې اثرات؛ ۵. موجوده گټې اخیستنې؛ ٦. حفاظت، ساتنه، له نړیوالو مشترکو سیندیزو حوزو څخه د گټې اخیستنې پراختیا او اقتصاد او د دې منظور لپاره له اوبو څخه د گټې اخیستنې قیمت؛ ۷. د موجوده گټې اخیستنې او پلان شوې هغې ترمنځ د ارزښت تر مقایسې وروسته ځایناستي والی.

د دې کنوانسیون یو بل مهم ټکی د جدي ضرر نه رسولو التزام دی، چې په ۷مه ماده کې ورته اشاره شوې ده. د دې مادې ۱ بند کاږي چې هېوادونه به مناسب اقدامات تر لاس لاندې نیسي، څو د نړیوالې سیندیزې مشترکې حوزې بل هېواد ته پام وړ ضرر ونه رسوي. د دې مادې په ۲یم بند کې راغلي دي چې که چیرې یو هېواد او بل هغه ته د پام وړ صدمه رسوي، هغه هېواد چې ضرر یې رسولی باید ټول مناسب اقدامات وکاروي، څو د ۵مې او ٦مې مادې مواداتو ته په کتو له متاثر هېواد سره تر مشورو وروسته ضرر حذف او یا حد اقل ته ورسوي او د لزوم په صورت کې د خسارت جبران په اړه خبرې اترې وکړي.

که څه هم دلته د ضرر رسولو پر مخنیوي ټینگار شوی، خو لکه څنگه چې د هغه فعالیت چې پخوا شروع شوی وي، درول او توقف یې سخته چاره ده او په ځینو مواردو کې مغلق او گران کار دی، نو ځکه که ممکنه وي، کولای شو د غرامت او جبران د خسارې په اړه بحث وشي. (C., ۲۰۱۵)

۱۰مه ماده وایي چې د موافقتنامو او هېوادونو تر منځ رایج عرف نشتون په صورت کې هیڅ ډول گټه اخیستنه په ذاتي توگه له بلې هغې څخه ارجحیت نه لري او د مختلفو استفادو تعارض په صورت کې انساني اساسي او حیاتي اړتیاوو ته باید ځانگړې پاملرنه وشي.

د دې کنوانسیون درېیمه برخه ۹ مادې لري چې په یوې گډې مشترکې حوزې کې پراته هېوادونه د خپلو تر لاس لاندې اقداماتو څخه بل اړوند هېواد ته د خبر رسونې په اړه د التزام اصل دی. د دې اصل ماهیت دا دی چې که چیرې د حوزې پر سر پروت یو هېواد داسې اقدامات تر لاس لاندې نیسي چې احتمالاً بل هېواد ورڅخه متاثره کیږي او یا ورباندې ناوړه اثرات لري، د اقداماتو تر لاس لاندې دولت باید نورو اړوندو هېوادونو ته خبر ورکړي. که چیرې هغه هېوادونه په دې باور وي چې ویل شوي اقدامات د کنوانسیون له ۵مې او ۷مې سره ټکر لري، په خپل منځ کې د مشورې او تفاهم له لارې منصفانه حللاره مومي.

د دې کنوانسیون څلورمه برخه د نړیوالو گډو سیندیزو حوزو حفاظت، ساتلو او مدیریت ته ځاگړې شوې، چې د اکو سیستم ساتلو، د ککړتیا مخنیوي، کمښت او کنټرول په اړه د مشاورو پکې یادونه شوې. همدا راز یې ټینگار کړی چې نړیوالې گډې سیندیزې حوزې او تاسیسات یې باید په مسلحانه نښتو کې له تعرض څخه خوندي وي.

د کنوانسیون تحلیل: د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون د محدود حاکمیت له نظریې څخه په الهام، د هلیسنگي قواعدو پر اساس د نړیوالو گډو سیندیزو حوزو لپاره قوانین رامنځته کړي دي. د دې کنوانسیون په مفاد کې د «معقولانه او منصفانه» اصل حمایت شوی (۵ ماده) او په عین حال کې هېوادونه ملتزم دي، چې د پام وړ ضرر به بل اړوند هېواد ته نه رسوي(۷ ماده). په حقیقت کې دې کنوانسیون ظاهراً دوه متضاد اصول پرته له دې چې واضح لومړیتوب یې مشخص کړي، په ځان کې رانغاړي چې همدا موضوع د حقوقپوهانو تر منځ د اختلاف سبب شوې ده.

د تن زی په خبره، د دې کنوانسیون مهم او غوښن بحث همدا دی چې کوم اصل د «معقولانه او منصفانه گټې اخیستنې اصل» او که «د پام وړ ضرر نه رسولو اصل» باید لومړیتوب ولري. (A., ۱۹۹۷) د دویم راپور ورکوونکي نظر، د نړیوالو حقوقو کمېسیون نظر له مخې، د معقولانه او منصفانه گټې اخیستنې اصل په لومړیتوب کې قرار لري، لیکن درېیم راپور ورکونکی د پام وړ ضرر نه رسولو اصل تقدم لپاره استدلال کوي. مفسران هم د راپور ورکونکو په شان د دې مفاهیمو تطبیق له ستونزې سره مخ دي. په دې اړه خصاونه وایي چې د نه ضرر رسولو اصل باید لومړیتوب ولري، په داسې حال کې چې دلاپنا د معقولانه او منصفانه گټې اخیستنې لومړیتوب خبره کوي (W, ۱۹۹۹) او ښیي چې د اوومې مادې ۱ بند د ضرر کمولو او بل بند یې د جبران خسارې په اړه دی او دا د دې ادعا د شواهدو په توگه یادوي.

نړیوال بانک چې باید د مالي پروژو د تامین په برخه کې د نړیوالو حقوقو اصول په پام کې ونیسي؛ د منصفانه او معقولانه اهمیت یې په تیورۍ کې په نظر کې نیولی دی، لیکن په عمل کې د اجرا ساده توب ته په پام، د ضرر نه رسونې ملاک یې کارولی او هغه پروژه چې د ضرر رسوو سبب کېږي، د اړوندو هېوادونو له تصویب پرته یې مالي تامین نه کوي. د ولف په وینا، ځینې اصطلاحات لکه د «معقول»، «منصفانه»، د «پام وړ» عمداً مبهم دي چې هم په حقوقي او هم په سیاسي مصالحو کې له نظره د عرفي ابهامو قواعدو استمرار ته یې زمینه مساعده کړې ده. دې معضل ته د رسیدو په موخه ځینې شنونکي لکه ولف په دې آند دي، چې د گډو سیندیزو حوزو له اوبو څخه په گټه اخیستنه کې باید د اړتیا محور مسئله په پام کې ونیول شي.

په لومړي لید کې داسې ښکاري چې د پورتنې کنوانسیون مفاد د ښکته پرتو (downstream) هېوادونو په گټه دي؛ ځکه خو ترکیه د بره پروت (Upstream) هېواد په توگه له دې کنوانسیون سره صریح مخالفت وښود او سوریې د ښکته پراته هېواد په توگه ورڅخه ملاتړ وکړ. لیکن وروسته وروسته بیا ښکته پرتو هېوادونو هم له «منصفانه او معقولانه» اصل څخه حمایت وکړ؛ ځکه چې دا اصل اوسنیو اړتیاوو ته هم د پخوانیو هغو په شان ارزښت ورکوي که څه هم د نه ضرر رسونې اصل تلویحاً د پخوانیو گټه اخیستنو لومړیتوب معنا لري، چې په عمومي توگه په ښکته پرتو هېوادونو کې قرار لري او د دې سبب کیږي چې د پورته پرتو هېوادونو معقوله گټه اخیستنه محدوده شي. له بله اړخه د پخوانۍ گټې اخیستنې مطلقه برتري په حقیقت کې د منصفانه او معقولانه گټې اخیستنې سره په تعارض کې ده او دا په داسې حال کې ده چې د انصاف اصل له مخې لزوماً پخوانۍ گټه اخیستنې لومړیتوب نه لري. (A)

لکه څنگه چې د ۵مې مادې ملاحظاتو په ارزونه کې راغلل، اوسنۍ گټې اخیستنې هم یو له هغو عواملو څخه دي چې په پایله کې به د منصفانه او معقولانه گټې اخیستنې موضوع تعینوي.

که څه هم د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون ارزونې تر ډېره حده د پورتنیو دوو اصلونو په تحلیل او بررسۍ پورې اړه لري، لیکن مک کفري د نړیوالو حقوقو کمېسیون غړي او ځانگړي راپورچي په حیث د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون تدوین په وخت داسې اظهار کړی: «په داسې حال کې چې د ضرر نه رسونې اصل د یو معیار او مستقلې قاعدې په عنوان ارزښت لري، لیکن د یو سټنډرډ مطلق بیانوونکی دی او نه هم کولای شي د منصفانه او معقولانه گټې اخیستنې ځایناستی شي او که څه هم دا دواړه اصله ظاهراً د یو او بل متعارض ښکاري، لیکن په حقیقت کې د ضرر نه رسونې اصل د منصفانه او معقولانه گټې اخیستنې اصل مکمل او تکمیلوونکی دی او د اړوندو هېوادونو تر منځ د پراخ بحث او جنجال سبب شوی او کېدای شي په موثره توگه د جدي ضررونو ځانگړي اشکال منع او تحریم کړي. (Caffrey, ۲۰۰۱) په ورته وخت کې شیهاتاد د دې دوو اصلونو تر منځ اړیکې مصنوعي بللې او خبرداری ورکوي چې دا ساختگي دوه گونیتوب په مستمره او پایداره توگه د مشترکو سیندیزو حوزو گټه اخیستنې مسیر کې واقع شي او د اوبو منصفانه وېش باید اوسنیو اړتیاوو او گټو اخیستنو ته په پام د اړونده جمعیت معیشیت او ورپورې تړلو خلکو ته په پام صورت ونیسي.

پورتنۍ نانډرۍ او ابهامات د دې سبب شوي چې پورته پراته هېوادونه د دې کنوانسیون امضا او الحاق ته میل او رغبت ښکاره نه کړي او په عملي توگه د دې سبب شوي چې د دې کنوانسیون اجرا ۱۷ کال وځنډېږي.

د دې کنوانسیون مفاد په تدوین کې هڅه شوې چې کلي او هر اړخیز وي، څو د نړۍ ټولو گډو سیندیزو حوزو له شرایطو سره سمون وخوري، همدا موضوع د دې سبب شوې چې د دې کنوانسیون تفسیر او اجرا په بېلابېلو حوضو کې ساده چاره نه ده او په دې برخه کې ډېرې پیچلتیاوې شته. په نړیواله کچه یوازینۍ مرزي قرارداد چې د هلیسنگي قواعدو او ۱۹۹۷ کال کنوانسیون موادو له مخې رامنځته شوی، د مکانگ تړون دی، که څه هم تر اوسه اجرا شوی نه دی.

که څه هم د معقولانه او منصفانه گټې اخیستنې او ضرر نه رسونې دوو اصولو تر منځ ځینې ابهامات (واقعي او یا مصنوعي) شتون لري او له بله اړخه د منصفانه او معقولانه گټې اخیستنې اصل تفسیر عوامل مختلف او ساده چاره نه ده؛ ځکه دا موضوع ځینې پیچلتیاوې لري، لیکن دا باید په یاد ولرو چې د پوله تیریدونکو په وېش کې نه شو کولای د نړیوالو حقوقو عرفي او مسلم قواعد له پامه وغورځوو. نو ځکه ویلای شو چې د ځینو شنونکو لکه ولف چې له مخې یې غواړي په کنوانسیون کې د شته اصولو پر ځای د اړتیا محور شاخص ځایناستی شي، متناقض چلند دی. ځکه چې اوسنۍ گټه اخیستنه په کنوانسیون کې له ډېرو عواملو څخه یو عامل دی او دا په هیڅ صورت د ټولو عواملو استازیتوب نه شي کولای چې د اوبو په ویش کې باید په نظر کې ونیول شي. همدا راز په دې برخه کې اقتصاد محوره تیورۍ چې د گټې اخیستنې پر زیاتوالي او یا د اوبو موثر وېش په یوازې توگه او یا د گټو تشریک هم د کنوانسیون له مفاداتو سره فاصله لري؛ ځکه چې په دې کنوانسیون کې له اوبو څخه گټې اخیستنې اقتصاد هم له ډېرو مندرجو عواملو څخه یو عامل دی، چې د معقولانه او منصفانه گټې اخیستنې په برخه کې باید په پام کې ونیول شي.

**دوام لري...**

# د سولې په راوستو کې د ولس ونډه او تلپاتې سوله

لیکنه: د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د سولې په راوستو کې د ولس ونډه او تلپاتې سولې په نوم د ښاغلي دکتور مصباح الله عبدالباقي د خبرو لنډیز:

**ولس چا ته ویل کیږي؟**

أ– ټول هغه مؤثر جهتونه چې په خلکو کې ځای لري او خلک پرې اعتماد کوي؛ د ولس برخه حسابیږي. یوازې هغه خلک ولس نه بلل کیږي چې زور، څواک او پیسې ورسره وي او خلک یې له وېرې خبره مني.

ب– د ولس هغه خاموش اکثریت چې له سیاسي لوبو څخه بې زاره دي، مگر سولې ته لیواله دي.

ج- هیله دا ده چې هېڅ یو جهت (هغه که حکومت وي او که طالبان) په یوازې ځان د دې ادعا ونه کړي، چې هغه ملت تمثیلوي، له همدې امله مونږ باید کوښښ وکړو چې د سولې په بېلابېلو برخو کې د ملت مؤثر جهتونه همکار او سهیم واوسیږي، څو د سولې پروسه کامیابۍ ته ورسیږي.

**ولسي ونډه څه مانا لري؟**

لومړی: د سولې کومه شورا چې د دولت په کچه رامنځ ته شوې ده، هغه باید په واقعي شکل د ولس غږ منعکس کړي.

دویم: دا شورا باید یوازې د دولت له لوري له معرفي شوو کسانو څخه جوړه نه وي، بلکې په ټولنه کې مقبولیت درلودونکي علما، پوهان او داسې قومي مشران چې په ټولنه کې وزن ولري، په دې شورا کې گډون ولري.

درېیم: په سوله کې باید د بون تجربه تکرار نه شي، چې سیاسي قدرت د یو- دوو جهتونو تر منځ د تقسیم قضیه مطرح شي او بیا هغه فیصله په ملت تحمیل شي، چې د هغې په نتیجه کې بیا شخړې او گډوډۍ ایجادېدلی شي.

څلورم: په بین الافغاني خبرو اترو کې باید په کلیدي مواردو لکه: د عبوري مرحلې، د نظام نوعیت، د طالبانو د راتگ عملي شکل به څرنگه وي، باندې په تفصیل خبرې وشي او نور تفصیلي قضایا باید په دې خبرو اترو کې بحث نه شي لکه: (خارجه پالیسي، اردو او فوځ، اجباري مکلفیت، تعلیمي نظام، تجارت او داسې نور). دا ځکه هرڅومره چې خبرې تفصیلي کېږي، مسائل پیچیده کیږي اونتایجو ته رسېدل پکې پیچلي کېږي او هرڅومره چې خبرې اوږدیږي، هومره پکې د لاسوهنې فرصتونه زیاتیږي او د ناکامۍ چانسونه یې زیاتیږي او دویم دا چې دا لږ خلک د ولس رایه او نظر نه شي منعکس کولی؛ بلکې زیات په میکانیزمونو باندې باید بحث وشي او تفصیلي قضایا بیا د هغو میکانیزمونو له لارې حل شي. د بېلگې په توگه، په دې اتفاق وشي چې مونږ په افغانستان کې یو اسلامي نظام غواړو چې د خلکو د رایو او باور په نتیجه کې رامنځ ته شوی وي، خو د دې عملي صورت به څرنگه وي، دا باید د اساسي قانون تعدیل ته پرېښودل شي او د هغه لپاره میکانیزم وټاکل شي چې څرنگه باید پکې تعدیل راوړل شي.

همدا اوسنی میکانیزم چې په اساسي قانون کې پیشنهاد شوی دی، همدا درست دی او که کوم بل میکانیزم پشنهادیږي هم، کومه مشکله خبره نه ده.

پنځم: داسې قضایا چې هغه اجتهادي قضایا وي او د اسلامي امت علما پکې متفاوت نظرونه لري، په داسې قضایاوو کې باید په یو اجتهادي نظر د تحمیلولو اصرار شاید قضایا د بن بست لور ته یوسي، نو په داسې قضایاوو کې د ملت د علماوو او پوهانو هغو نظریاتو ته اهمیت ورکول هم د ولس د ونډې یو مظهر دی. د بېلگې په توگه، له ځینې مولوي صاحبانو سره دا تصور دی چې گویا د هېواد د زعامت د انتخاب لپاره د خلکو رایو ته مراجعه کول درست نه دي او دا دي څه غلط فهمیو په نتیجه کې تحاکم الی الطاغوت گڼي، حال دا چې د امت بې شمېره علما دا کار د اسلام له روح سره متناسب گڼي.

شپږم: د سولې په راوستلو کې د ولس یوه بنسټیزه ونډه دا هم ده چې د ولس له منځ څخه د راټوکېدلو جریانونو څخه داسې یو درېیم گړی جهت وجود ولري، چې د خبرو اترو څارنه وکړي. د اړتیا په وخت کې منځگړیتوب، د مشکل په وخت کې مشوره او تعنت او عناد په وخت کې فشار وارد کړي، په بشپړ ډول د خبرو اترو په جریان کې وي، ټول جریانونه له خلکو او ولسونو سره شریک کړي او هر څوک چې مشکل ایجادوي، لومړی یې د اصلاح کوښښ وکړي او که نتیجه ورنه کړي، نو له ولسونو سره یې خبره شریکه کړي او د ولسي فشار له لارې پرې خبره ومني.

اووم: د خبرو اترو د بې ځایه اوږدولو د مخنیوي لپاره کار او فعالیت کول او کوم لوری چې وغواړي بې ځایه خبرو د بې ځایه اوږدولو کوښښ وکړي، پر هغه باندې ولسي او ټولنیز فشار وارد کړی شي.

اتم: دا درېیم گړی جهت باید دې ته متوجه وي، چې که د سیمې او نړۍ استخباراتي شبکې په خبرو اترو د اغېز کوښښ وکړي، دا هم د ټولنې له خلکو سره شریک کړي او د مخنیوي لپاره یې هڅه وکړي.

نهم: د تفاهمنامې له لاسلیک وروسته د دې څارنه کول چې د تفاهمنامې ټول بندونه په عادلانه توگه تطبیق شي.

**د ولس ونډه څومره مؤثریت لري؟**

حقیقت دا دی چې یوازینۍ مؤثره وسیله ولس او ټولنې ته مراجعه کول دي او د سولې د داعیې تر شا د ولس درول دي، مخکې چې په افغانستان کې د سولې او استقرار څومره هڅې ناکامې شوې دي، د هغوی ټولو بنسټیز لامل دا و چې د مسلحو ډلو له لوري ولس تر تهدید لاندې نیول شوی و، له همدې امله په هغه وخت کې چې هر نظام رامنځ ته شوی دی، چون په ملت کې یې ریښې نه درلودې، نو دفاع یې ترې نه ده کړې.

اوس هم که ولس په هغه نظام باوري نه وي چې د دې خبرو اترو په نتیجه کې به رامنځ ته کېږي، نو د ولس مؤثرې پرگنې به یې تر څنگ نه وي ولاړې او بیا چې هر څوک د هغې په مقابل کې راولاړیږي، ملت به یې په اړه بې تفاوته وي، مگر که ملت یې تر څنگ ودرېده، نو د ټولنې هر مؤثر قشر به ترې دفاع کوي او نظام به په مستحکمو پایو ودریږي.

**د ولسي کار او ولسي فشار وسایل**

د سولې په اړه د ولسي کار او د ملت د تایید د تر لاسه کولو لپاره د ټولنې مؤثر او بې طرفه وگړي د مؤثر تشکل په لیکو کې راټولول.

د دې تشکل له لوري د ټولنې له مؤثرو قشرونو سره نږدې اړیکې ساتل او هغوی متحرک کول او په پرله پسې توگه د سولې په اړه د هغوی متحرک ساتل.

د سولې په اړه رسنیز فعالیتونه او له رسنیو سره مرکې، په سوشل میډیا کې قوي کمپاینونه، د سوشل میډیا لپاره قوي ټیم برابرول او هغه فعال ساتل.

د سولې د ټینگښت په موخه د افغانستان په کشاله کې د دلچسپې لرونکو او ښکېلو بهرنیو هېوادونو له سیاسي نماینده‌گیو سره اړیکې او لیدنې کتنې.

مظاهرې، لاریونونه، سمینارونه او ډول ډول ابتکاري پروگرامونه چې د ملت، نړۍ او رسنیو توجه راجلب کړي او له دې لارې د سولې په اړه د ولس غږ خلکو ته ورسیږي.

د سولې لپاره له دواړو مرکچي پلاوو سره د نږدې اړیکو ساتل، له هغوی سره د همکارۍ، مشورو، منځگړیتوب، د علمي نظرونو د شریکولو او د خبرو اترو د شفاف ساتلو په موخه له ولس سره د پرمختگونو د شریکولو په موخه، له علماوو او پوهانو څخه یو ټیم ټاکل څو د خبر اترو د بهیر څارنه وکړي.

# ولس د پاکستان پر وړاندې؛

## لاریون کوونکي: پر حکومت د معاملې شک لرو، پخپله د پاکستان اغزن سیم ټولوو



په ننگرهار کې سلگونو کسانو د پاکستان د وروستیو غیر قانوني کړنو پر وړاندې لاریون وکړ او د حکومت پر چوپتیا یې هم نیوکه وکړه. په د ننگرهار سلگونه کې کسان په یوه لاریون کې راټول شوي وو او پر فرضي کرښه یې د پاکستان تاسیسات او اقدامات وغندل.

دوی همدا راز وویل چې که حکومت معامله کړې وي، ولسونه یې غندي او پر وړاندې یې درېږي. دوی پر حکومت غږ کوي چې چوپتیا دې نه غوره کوي او له دې ملي داعیې دې دفاع وکړي.

پاکستان له څو کلونو راهیسې پر ډیورنډ فرضي کرښې د نظامي تاسیساتو او اغزن سیم د تېرولو کار پیل کړی دی. په دې وروستیو کې پاکستاني رسنیو ویلي وو چې د دغه اغزن سیم د غځولو د کار ستره برخه بشپړه شوې او په پاتې برخو کې هم د اغزن سیم د غځولو چارې روانې دي. پاکستان نه یوازې دا چې پر یوه فرضي کرښه د رسمي کرښې په څېر اقدامات کوي، بلکې تر څنگ یې له دې فرضي کرښې هم را اوښتې او افغان خاوره یې لاندې کړې ده. په کونړ کې یې گڼې ولسوالۍ او کلي په دوو برخو وېشلي دي او خلکو ته یې ستونزې جوړې کړې دي.

اوس تازه په ننگرهار کې د پاکستان د دغه ډول ظالمانه کړنو او حکومت د چوپتیا په اړه لاریون شوی دی. سلگونه کسانو په دغه لاریون کې برخه اخیستې وه او دوی په افغانستان او سیمه کې د پاکستان کړنې غندلې. دوی پاکستان د ترهگرو ملاتړی باله او په خبره یې، د افغانستان د څلوېښت کلن ناورین ټولې جرړې په پاکستان کې دي او باید د دغه هېواد پر وړاندې اقدام وشي.

لاریون کوونکي وایي ډیورنډ یوه فرضي کرښه ده چې د لر او بر افغان ته د منلو نه ده او ټول یې په یوه خوله د له منځه وړلو او ختمولو غوښتنه کوي. ولسونه وایي، لومړی حکومت ته گوري او که حکومت د پاکستاني حکومت پر وړاندې کوم کار و نه کړ، نو اړ دي چې لاس په کار شي او د خپلې خاورې ساتنه وکړي. د ننگرهار یو اوسېدونکی او د لاریون گډونوال فضل امین وایي، پاکستان دې په دې پوه شي چې دغه اغزن سیم به ولس ټولوي او له منځه به یې وړي. د ده په خبره: ((خپل ولس ته دا پیغام ورکوم، چې د لوی افغانستان پر نقشه غور وکړي. پاکستان به د نړۍ له مخې ورکېږي. دولتونه به د دې مسئلې غم کوي کنه، خو ولسونه به د پاکستان د اغزن سیم او غیر قانوني اقداماتو پر وړاندې درېږي)).

د ننگرهار اوسېدونکي همدا راز وایي چې د خپل حق د غوښتلو لپاره هر دول سرښندنې ته تیار دي. یوه بل لاریونوال وویل: ((اوس به زموږ وسه نه وي، خو له خپل حق دفاع کوو. اوس اغزن سیم دی، خو که فولادي دیوال هم جوړ کړي نړول کېږي. اوس حکومت ته په تمه یو، خو که یې کوم کار و نه کړ، نو ارو مرو به ولسونه راټول شي او پخپله به لاس په کار شي)).

دوی پر حکومت هم نیوکه کوي چې چوپتیا یې د اندېښنې وړ ده. د لاریون یو تنظیموونکی وایي، حکومت چې څومره چوپتیا غوره کوي دا اندېښنې ډېروي چې گواکې پر کرښه معامله شوې ده. د ده په خبره: ((دولت په دې اړه چې څومره ناغیړي کوي، څومره ځان ناخبره ښیي، دا مسئله داسې نه ده، موږ یې هره معامله غندو، موږ لاریونونه کوو چې حکومت رابېدار شي، خو که و نه شوه پخپله لاس په کار کېږو)).

د ننگرهار اوسېدونکي د پاکستان د وروستیو تحرکاتو او پر ډیورنډ کرښه د اغزن تار غځولو او تاسیساتو جوړېدو په اړه داسې مهال غبرگون ښیي چې ویل کیږي د پاکستان له خوا پر ډیورنډ کرښه د اغزن سیم د غځولو او تاسیساتو جوړولو کار مخ پر خلاصېدو دی، خو حکومت تر اوسه په دې تړاو هیڅ غبرگون نه دی ښودلی.

# د امریکا د پرېکړه‌لیک ردول؛

## امنیت شورا پر ایران د وسلو د بندیز غځولو په تړاو د امریکا پرېکړه‌لیک په غوڅ اکثریت رد کړ

د ملگرو ملتونو امنیت شورا پر ایران د وسلو بندیز د تمدید په موخه د امریکا متحده ایالتونو وړاندیز شوی پرېکړه لیک رد کړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې پر ایران د وسلو دا بندیز په راتلونکې اکتوبر میاشت کې پای ته رسیږي، خو امریکا په خپل وړاندیز کې له امنیت شورا غوښتي وو چې ویې غځوي.

د ملگرو ملتونو په امنیت شورا کې پر ایران د وسلو د بندیز تمدید ته له رایې اچونې مخکې معلومېده چې دا پرېکړه لیک به تایید نه شي.

د ایران دوو سیمه ییزو متحدانو روسیې او چین، چې په امنیت شورا کې د ویټو حق لري، له پیله د امریکا په ملاتړ له وړاندیز شوي دغه پرېکړه لیک سره مخالف وو.

پرېکړه لیک ته د امنیت شورا د پنځلسو غړو هېوادونو له ناکامې رایې ورکونې وروسته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو ویلي چې امنیت شورا په دې کې پاتې راغله چې له ایران سره حساب وکړي.

پامپیو ویلي، پر ایران د وسلو بندیز د نه غځولو پرېکړه به ایران ته، چې په خبره یې په نړیواله کچه د ترهگرو لومړۍ درجه ملاتړی دی، دا لاره برابره کړي چې وژونکې وسلې واخلي او خرڅې یې کړي. پامپیو زیاته کړې چې امریکا خپلو هڅو ته دوام ورکوي ترڅو دغه تېروتنه سمه کړي. پرېکړه لیک ته د ملگرو ملتونو د امنیت شورا ۲ غړو مثبته، ۲ منفي او ۱۱ نورو ممتنع یا سپینه رایه ورکړه. واشنگټن په دې رایه اچونه کې حتی هغه ۹ رایې هم ترلاسه نه کړې چې پر وړاندې یې چین او روسیې د ویټو له حقه استفاده کړې وای.

په ورته وخت کې په ملگرو ملتونو کې د چین ماموریت بیا پر خپله ټویټرپاڼه لیکلي: «پایلې وښوده چې یو اړخیزتوب هېڅ ملاتړ نه شي خپلولی او زور ازمایل به له ماتې سره مخامخ کېږي.»

دا په داسې حال کې ده چې په ۲۰۱۵ ز کال کې د ایران او د نړۍ د شپږو قدرتونو ترمنځ په اټومي تړون کې راغلي چې پر تهران به د وسلو بندیز د ۲۰۲۰ ز کال د اکتوبر په ۱۸مه پای ته رسیږي. هغه مهال امنیت شورا هم په خپل ۲۲۳۱م نمبر پرېکړه لیک کې دا موضوع تایید کړه.

امریکا بیا له وړاندې گواښ کړی و چې که د ایران د وسلو بندیز تمدید نه شي، دوی به پر ایران د ملگرو ملتونو بندیزونه له سره ولگوي، هغه گام چې د کارپوهانو په باور، امنیت شورا به له کړکېچ سره مخ کړي.


بلخوا په ملگرو ملتونو کې د ایران سفیر مجید تخت روانچي بیا ویلي، که امریکا او امنیت شورا پر ایران بندیزونه ولگوي، نو دوی ورته نامحدود ځوابونه لري چې په خبره یې، مسوولیت به یې هم د امریکا او هم د دغه گام د نورو ملاتړو پر غاړه وي.

## د کتاب خبرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

**دریمه برخه**
**ستاسو راتلونکی اوس پیلېږي!**
**شلم څپرکی**




**څلور: له ګټې څخه د څو چنده زیاتې ګټې اخیستنې پوهه**
تر سپما کولو وروسته ستاسو بل اقتصادي فعالیت د سپما څو چنده کول دي. له پانګونې ګټه اخیستل د اقتصادي پوهې بل معیار دی. څوک چې د خپلو پیسو پنځوس سلنه ګټه ترلاسه کوي، تر هغه کس یې مالي پوهه زیاته ده چې پنځه سلنه ګټه پرې کوي. او هغه کس چې پنځوس سلنه ګټه ترلاسه کوي او هېڅ مالیه نه ورکوي، تر هغه کس یې مالي پوهه بیخي زیاته ده چې پنځه سلنه ګټه کوي او ۳۵ سلنه مالیه ورکوي.
ځینې خلک خپلې سپمولې پیسې په بانک کې ساتي یا یې د څو چنده کولو په نیت د پانګونې ګډو شرکتونو ته ورکوي. دا ښه نه ده. ځکه په بانک کې تر پیسو اېښودلو او په ګډه پانګونه کې تر شریکېدلو نورې ښې او ګټورې لارې شته.

**د برم او ښکلا ژوند**
د شبکه یي بازارموندنې له تجارت څخه موخه د پیسو ګټل نه دي، بلکې دا تا ته هغه مهارتونه او اقتصادي پوهه درکوي چې په وسیله یې خپلې سپمول شوې او اضافي پیسې په رښتینې شتمنۍ بدلوې.
خو د دې شتمنۍ وروستۍ موخه دا هم نه ده. وروستۍ موخه یې دا ده چې له برمه ډک پرتمین ژوند ولرې.
په بېلو حالتونو کې د خلکو تر لیدلو وروسته ویلای شم چې خلک په درې ډوله دي. دغه درې ډوله د درېیو بېلو احساسونو پر بنسټ دي چې درې مالي او رواني حالتونه ښیي:

**یو. په وېره کې ژوند کول**
پوهېږم چې د ماتې احساس څنګه وي. مخکې مې وویل چې (۱۹۸۵م) د څو لاملونو په خاطر زما د ژوند تر ټولو ناوړه کال و. زه او زما مېرمن «کېم» له مالي اړخه په خورا سخت حالت کې وو. ان بې کوره شوي وو او په خپل زاړه ټیوټا موټر کې مو ژوند کاوه. هغه مو کور و. په هغو ورځو کې د وېرې احساس فلجوونکی او دومره سخت و چې زمونږ بدنونه یې بې حسه کړل.
دا احساس ښه سم پېژنم. دا احساس زما د ماشومتوب د وخت په څېر و. په داسې کورنۍ کې لوییدم چې د غربت او فقر ټغر پکې هوار و. زما په ماشومتوب کې تر ډېره زمونږ پر کورنۍ د «پیسو نه درلودلو» توره وربځ غوړېدلې وه. د ژوند کولو لپاره پیسې نه لرل خورا وېروونکې تجربه ده. یوازې له مالي اړخه نه، بلکې له نورو اړخونو دې هم زخمي کوي. پر ځان باور او د ځان د عزت احساس دې کموي او د ژوند هر اړخ دې ویجاړوي.

**دوه: په ناهیلۍ او خپګان کې ژوند کول**
په ژوند کې دوهم څیز له ورځنۍ دندې څخه پېښېدونکی د ناهیلۍ او خپګان احساس دی. په ځانګړي ډول هغه دنده چې لېوالتیا هم نه ورسره لرې. کوم کس چې له داسې احساس سره ژوند کوي، ښایي ښه دنده او تنخوا هم ولري؛ خو بیا هم ځان له دې کاره نشي ایستلای. په همدې خاطر ناهیلي منځته راځي. دوی پوهېږي که له دغې دندې ووځي، نو نړۍ به یې ګډه وډه شي.
داسې خلک وایي:«کار مې نشم پرېښودای. که داسې وکړم، نو د بانک خاوند به راشي او هر څه به مې له ځان سره یوسي.» دوی ډېر وخت وایي:«راتلونکو رخصتیو ته انتظار یم.» یا وایي:«یوازې لس کاله مې تقاعد ته پاتې دي.» یانې دا لس کاله به له دغې دندې، ناهیلۍ او خپګان سره ژوند وکړم او وروسته به تقاعد شم. خپګان او ناهیلي به مې ختمه شي. خو اصلاً داسې نه ده.

**درې: خوښ، ارام او قانع ژوند**
درېیمه لاره له فکري ارامۍ سره ژوند کول دي. داسې فکري ارامي چې که کار وکړې او که یې ونه کړې؛ خو پیسې درته را روانې وي. له (۱۹۹۴م) راهیسې مې او مېرمن «کېم» په دغه احساس کې ژوند کوو. دا هغه وخت و چې مونږ خپل تجارت خرڅ کړ او تقاعد شوو. کېم د ۳۷ او زه د ۴۷ کلو وم. مونږ کار کولو ته هېڅ مجبور نه یو. ان که هېڅ وخت هم کار ونه کړو، مونږ ته د ژوند تر پایه ګټه راځي. دا ښه او خوشالوونکی احساس دی. مونږ ته پکې د دې اجازه راکول کېږي، چې د خپل زړه او علاقې کارونه وکړو.
مونږ یوځای یو. که وغواړو، نو د ګلف لوبه کوو، د نړۍ سفر کوو او ډېر ساعتونه په کنفرانس خونو کې یو. دا هر څه مونږ ته د لوبې، تفریح او خوبونو په څېر دي. دا هغه ژوند دی چې مونږ غوښتی او له هرې شېبې څخه یې خوند اخلو.

**مېږی، ملخ او انسان**
وړاندې مو د ملخ او مېږي کیسې ته اشاره وکړه. مونږ ټول له دې فکرونو سره را لوی شوي یو چې دوه ډوله ژوند شته. یو ښه، کم خرڅه، کارګر او سپما لرونکی ژوند لکه د مېږي چې د راتلونکي لپاره خوراک ټولوي. او بل د بې مسئولیته او بد خرڅه ملخ په شان ژوند چې دلته هلته غورځي او نڅاګانې کوي، پرته له دې چې د راتلونکي په اړه فکر وکړي.
له ځینو اړخونو دا کیسه تر ګټې زیان ډېر لري. بلکل، مسئولیت درلودل، کم لګښت کول او راتلونکي ته تیاری ښه خبره ده؛ خو تاسو د مېږي ژوند ته وګورئ! ایا غواړئ د مېږیانو د لویې مستعمرې یوه کوچنۍ برخه واوسئ او د ژوند تر پایه هره ورځ چټل خوراکونه یوسئ؟
راشئ وګورو! مونږ نه مېږیان یو او نه ملخان. مونږ انسانان یو.
که د شتمنۍ په بنسټونو پوه شئ؛ که له پیسو، وخت او توجه څخه په هوښیارۍ ګټه واخلئ؛ که لویې هیلې او خوبونه ولرئ او هغوی ته د رسېدلو جرات ولرئ، نو بیا د داسې بریالي ژوند وړتیا لرئ چې له بلې کومې لارې په لاس نه درځي.
**دوام لري...**

# امام محمد شیباني د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي

امام محمد شیباني د لوړو زده کړو خصوصي موسسې په لوړو زده کړو وزارت کې تر ثبت او راجستر وروسته، په ۱۳۹۵ کال کې په کندوز ولایت کې د دوو پوهنځیو (شرعیاتو او ښوونې او روزنې) په درلودلو سره په فعالیت پیل وکړ. د امام محمد شیباني د لوړو زده کړو موسسې رییس ښاغلی عبدالله ابراهیمي وایي، موسسه یې له هماغه لومړي سره بیا تر اوسه پورې همدا دوه پوهنځي لري. د امام محمد شیباني د لوړو زده کړو خصوصي موسسې د شرعیاتو پوهنځي دوه ډیپارټمنټونه (فقه او قانون او تعلیمات اسلامي) او د ښوونې او روزنې پوهنځی یې بیا د (بیالوژي، ریاضي، فزیک او کیمیا) ډیپارټمنټونه لري، چې ټول فعال او عملاً محصلین پکې پر زده کړو بوخت دي.
په امام محمد شیباني د لوړو زده کړو خصوصي موسسه کې اوسمهال د ۷۰۰ په شاوخوا کې محصلین پر زده کړو بوخت دي، چې له ډلې یې پنځوس سلنه ښځینه او پنځوس سلنه نارینه محصلین دي. ښاغلی عبدالله ابراهیمي وایي، چې له خپلو دواړو پوهنځیو څخه یې تر اوسه پورې درې دورې محصلین د لېسانس په کچه فارغ کړي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي. دی وایي، دا چې تر ډېره په کندوز ولایت کې مسلکي ښوونکي کم دي، نو دوی د شرعیاتو پوهنځي تر څنګ له ښوونې او روزنې پوهنځي درې دورې محصلین په څلورو برخو کې د مسلکي ښوونکو په توګه ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي، چې ډېری یې خپله په کندوز او د هېواد په نورو ولایتونو کې د ښوونکو په توګه دنده تر سره کوي.
دا چې امام محمد شیباني د لوړو زده کړو موسسې تر اوسه پورې پوهنتون ته ارتقاع نه ده کړې او د پوهنځیو شمېر یې کم دی، نو تر اوسه پورې د ماسترۍ کوم پروګرام هم نه لري.
د امام محمد شیباني د لوړو زده کړو خصوصي موسسې رییس ښاغلی عبدالله ابراهیمي وایي، چې هر کال یې د نویو محصلینو د جذب شمېرې توپیر کوي او دغه څه تر ډېره د هېواد بیا په ځانګړي توګه د کندوز ولایت په امنیتي او اقتصادي وضعیت پورې تړلې خبره ده. خو وایي، دا چې خصوصي پوهنتونونه په کال کې دوه ځله د کانکور ازموینه اخلي، نو ویلای شي چې له ۲۰۰ نیولې تر ۳۰۰ کسانو پورې په کلنې ډول جذبوي. دی وایي، د جذب وړتیا یې تر دې ډېره ده، نو دا چې د پوهنځیو شمېر یې کم دی، نو دې ټکي ته په کتو یې د نویو محصلینو جذب هم ټیټ دی. ښاغلی ابراهیمي وایي چې غواړي په راتلونکي کې درې نور پوهنځي هم جوړ کړي.
امام محمد شیباني د لوړو زده کړو موسسې اداره د نارینه محصلینو لپاره پنځوس او د ښځینه محصلینو لپاره بیا شپېته سلنه تخفیف ورکوي. د لوړو زده کړو د دې موسسې مشر وایي، دوی په هر سمیسټر کې د دېرشو کسانو لپاره چې اقتصادي وضعیت یې ښه نه وي، وړیا بورسیې ورکوي. د دې تر څنګ که څوک ورته مراجعه وکړي او په رښتیا یې هم اقتصادي وضعیت په هغه کچه نه وي چې وکولای شي لوړې زده کړې وکړي، نو دوی یې اقتصادي وضعیت ارزوي او تر هغه وروسته ورته په دې موسسه کې د زده کړو زمینه برابروي.
د لوړو زده کړو په دې موسسه کې د ورځې په یو وخت کې چې د سهار له اتو پیلېږي او د ماسپښین تر دوو بجو پورې دوام کوي، تدریس کېږي. ښاغلی ابراهیمي وایي، دوی په دې درسي وخت کې دمه هم لري، نو ځکه تر دوو بجو پورې یې درسي وخت اوږدېږي.
دا چې کتابتون په ښوونځي او پوهنتون کې یوه ضروري اړتیا بلل کېږي، نو د لوړو زده کړو په دې موسسه کې د محصلینو او استادانو لپاره یو مجهز کتابتون هم په پام کې نیول شوی دی، چې د ۱۲ زره په شاوخوا کې بېلابېل کتابونه لري. ښاغلی عبدالله ابراهیمي وایي چې د دواړو پوهنځیو د ډیپارټمنټونو اړوند ټول کتابونه یې د محصلینو او استادانو په واک کې ورکړي دي، څو وکولای شي له دې کتابونو څخه د خپلې مطالعې او څېړنې لپاره ګټه واخلي. دی وایي، هڅه به یې دا وي چې چې ورځ تر بلې دغه کتابتون غنی کړي او په نړۍ او هېواد کې نوي چاپ شوي کتابونه هم ور زیات کړي.
دا چې امام محمد شیباني د لوړو زده موسسې د تاسیس دومره موده نه کېږي، نو په کور د ننه او بهر هم تر اوسه پورې له کوم پوهنتون سره د علمي اړیکو هوکړې نه لري. د لوړو زده کړو د دې موسسې رییس وایي، تازه یې هڅې پیل کړې دي، چې د کندوز ولایت په ګاونډ کې له پرتو دوو ګاونډهېوادونو تاجکستان او ازبکستان له مشهورو پوهنتونونو سره ځینې هوکړې لاسلیک کړي، څو خپل ځینې استادان او محصلین دغو پوهنتونونو ته د ماسترۍ اخیستو لپاره ور واستوي. نوموړی وایي چې په کور د ننه له ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره نیکې اړیکې لري، خو تر اوسه پورې یې له کوم پوهنتون سره په رسمي ډول د علمي اړیکو کومه هوکړه نه ده لاسلیک کړې، خو هڅه به وکړي چې د هېواد له مشهورو دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره هوکړې ولري او له تجربو یې ګټه واخلي.
د لوړو زده کړو له دې موسسې څخه تر اوسه پورې ټولو فارغ شویو محصلینو ته د لوړو زده کړو وزارت په تاییدۍ د فراغت سندونه ویشل شوي دي. ښاغلی عبدالله ابراهیمي وایي، هغو محصلینو چې د زده کړو تر تمامېدو وروسته یې خپل مونوګرافونه دفاع کړي دي، دوی ورته د لوړو زده کړو وزارت په تاییدۍ د فراغت سندونه او ډیپلومونه ورکړي دي، څو وکولای شي له خپلو تحصیلي سندونو څخه د دندې پیدا کولو او یا نورو برخو کې ګټه واخلي. دی وایي چې همدا تېره میاشت یې نږدې ۷۰ فارغ شویو محصلینو ته ډیپلومونه وسپارل او د اسنادو په ورکړه کې تر اوسه پورې له کومې ستونزې سره نه دي مخ شوي او نه یې هم فارغ شویو محصلینو په دې برخه کې شکایت کړی دی.
د امام محمد شیباني د لوړو زده کړو خصوصي موسسې اداره وایي، هڅه یې کړې ده چې د محصلینو د وړتیاوو لوړولو او تجربو تر لاسه کولو لپاره خپل ټول امکانات په کار واچوي. ښاغلی ابراهیمي وایي، لنډمهاله کورسونه، علمي سمینارونه، ورکشاپونه، کتابتون، لابراتوار، کمپیوټر لب او دې ته ورته نور هغه امکانات دي چې دوی د خپلو محصلینو په واک کې ورکړي دي. د نویو پوهنځیو تاسیس، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول او د ماسترۍ پروګرام پیلول د امام محمد شیباني د لوړو زده کړو موسسې د ادارې په راتلونکو پلانونو کې دي.
ښاغلی عبدالله ابراهیمي له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې له خصوصي پوهنتونونو سره خپله همکاري ډېره کړي. دی وایي چې دوی سل زړونه سره یو ځای کړي او د کندوز ولایت په څېر یوه ناامنه ولایت کې یې پانګونه کړې ده، خو لوړو زده کړو وزارت هغسې چې لازمه ده همکاري نه کوي او ډېر کوچنې شیان ورته سختوي. له لوړو زده کړو وزارت او په تېره بیا له مالیې وزارت څخه د ډېری خصوصي پوهنتونونو یوازینۍ غوښتنه دا وي، چې مالیې وزارت ترې په ډېره لوړه کچه مالیه اخلي، چې دغه کار د دوی د پرمختګ مخه نیسي. دوی وایي چې مالیې وزارت دې خصوصي پوهنتونونو ته د یوه سوداګریز مرکز په سترګه نه ګوري، بلکې د یوه اکاډمیک مرکز په سترګه دې ورته وګوري، ځکه دوی د څه ناڅه ګټې تر څنګ افغان ځوانان روزي او د زده کړو په ګانه یې سمبالوي. نو لازمه ده چې افغان حکومت خصوصي پوهنتونونو ته ټول هغه امکانات برابر کړي، چې دولتي پوهنتونونو ته برابر شوي دي.
خصوصي پوهنتونونه د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ او د دې وزارت له قانون او مقرراتو سره سم فعالیت کوي، چې په زرګونو افغان ځوانانو ته یې د لوړو زده کړو زمینه برابره کړې ده. دا چې هر کال په یو زیات شمېر کسان له دوولسمو ټولګیو څخه فارغېږي او لوړو زده کړو وزارت نه شي کولای چې دغه ټول کسان په دولتي پوهنتونونو کې جذب کړي، نو خصوصي پوهنتونونه ورته یو زرین چانس دي، څو وکولای شي لوړې زده کړې وکړي، خو خصوصي پوهنتونونه بیا ډېر کله له لوړو زده کړو وزارت سر ټکوي چې له دوی سره د مور او مېرې چلن کوي.

اقتصاد

## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۱۵ |
| € | ۸۸,۵۰ |
| Rp. | ٤٥٤ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰,۵۰ |
| £ | ۹٦,۷۰ |

## بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# سندرم بینایی کمپیوتری یا CVS چیست؟ چطور با آن مقابله کنیم؟

ترجمه: امین همتی

این روزها شغل بخش اعظم کارمندان جامعه به‌گونه‌ای است که برای انجام کارشان باید ساعت‌های طولانی به صفحه نمایشگر کمپیوترها خیره شوند. این موضوع می‌تواند فشار قابل‌توجهی به چشم‌ها وارد کند. متأسفانه این مسئله در بلندمدت پیامدهای بدی خواهد داشت و آنها را درگیر عارضه‌ها و بیماری های چشمی مختلفی می کند. به مجموعه این ناراحتی‌ها و عارضه‌ها سندرم بینایی کمپیوتری (computer vision syndrome/ CVS)می گویند. این سندرم اگر نادیده گرفته شود، می‌تواند پیامدهای جدی‌تر و خطرناک‌تری در پی داشته باشد. در ادامه مطلبی که پیش رو دارید، اطلاعات بیشتری درباره این سندرم در اختیارتان خواهیم گذاشت. ابتدا از چگونگی اثرگذاری صفحه نمایشگر کمپیوترها بر چشم‌ها خواهیم گفت و سپس شما را با علائم و نشانه‌ها و نیز راهکارهای درمانی این سندرم آشنا خواهیم کرد. همراه ما باشید.

**سندرم بینایی کامپیوتری چیست؟**

سندرم بینایی کمپیوتری به خستگی، فشار و اساساً هر عارضه دیگری گفته می‌شود که چشمانمان را به‌خاطر نگاه‌کردن طولانی‌مدت به نمایشگر کمپیوترها تحت‌تأثیر قرار می‌دهد. به عبارت دیگر، سندرم بینایی کمپیوتری به یک عارضه بخصوص اشاره ندارد و شامل گستره نسبتاً وسیعی از ناراحتی‌ها و خستگی چشم می‌شود. نتایج برخی تحقیقات حاکی از آن بوده است که تقریباً بین ۵۰ تا ۹۰ درصد کسانی که با کمپیوتر کار می کنند علائم و نشانه‌های این سندرم را تجربه می کنند. البته تنها افراد بالغ نیستند که درگیر این عارضه می‌شوند؛ علائم آن در کودکان و نوجوانانی که زیاد از تبلت و کمپیوتر استفاده می کنند هم دیده می‌شود، به‌ویژه اگر حالت بدن آنها هنگام استفاده از این دستگاه‌ها و نور محیط مناسب نباشد.

**صفحه نمایشگر کمپیوترها چطور چشمانمان را تحت تأثیر قرار می دهند؟**

سندرم بینایی کمپیوتری شبیه به سندرم تونل کارپال/ مچ دست (carpal tunnel syndrome) و دیگر آسیب‌های رایجی است که در محیط کار، به‌خاطر حرکت‌های مداوم قسمتی از بدن گرفتار آنها می‌شوید. این سندرم بینایی به‌این‌خاطر اتفاق می‌افتد که چشم‌ها، به‌طور مداوم و بدون وقفه، در مسیری یکسان حرکت می کنند. هرچه مدت‌زمان حرکت چشم‌ها طولانی‌تر شود، علائم و نشانه‌های سندرم هم شدیدتر خواهند شد.

زمانی که با کمپیوتر کار می‌کنید و در حال نگاه‌کردن به نمایشگر آن هستید، چشمانتان را مجبور به تمرکز دوباره و دوباره بر روی صفحه نمایشگر می کنید. وقتی در حال خواندن متنی هستید، چشم‌ها باید مدام به عقب و جلو حرکت کنند. ممکن است مجبور باشید به برگه‌هایی که در دست دارید، نگاه کنید و سپس دوباره چشمانتان را بالا بگیرید و به صفحه نمایشگر نگاه کنید.

چشم‌ها در چنین شرایطی با واکنش نشان‌دادن به تصاویری که می‌بینید، مدام در حال تغییرکردن و حرکت‌کردن هستند. تمرکز چشم‌ها در یک لحظه روی تصویر بخصوصی است و لحظه‌ای بعد، روی تصویر دیگری. در این حالت تصاویر متعددی با اشکال متنوع بدون وقفه به مغز ارسال می‌شوند. مشخصا تمامی این اتفاقات نیازمند تلاش و تقلای قابل‌توجه عضله‌های چشم‌ها خواهد بود. تازه این تمام ماجرا نیست؛ صفحه نمایشگر کمپیوتر، برخلاف کاغذ و کتاب چاپی، نوعی درخشش و تابش متغیر دارد که فشار وارده بر چشم‌ها را به‌مراتب بیشتر می کند.

علاوه بر این، ثابت شده است که هنگام نگاه‌کردن به صفحه نمایشگر کمپیوتر کمتر پلک می‌زنیم. این مسئله پیامدهایی مثل خشکی چشم و تاری دید در پی دارد.

اگر به عارضه یا ناراحتی چشمی دیگری مبتلا باشید، احتمال ابتلا به سندرم بینایی کمپیوتری بیشتر خواهد شد؛ همچنین اگر عینکی باشید و هنگام کار با کامپیوتر، عینکتان را به چشم نداشته باشید (یا شماره عینکی که به چشم دارید، برایتان نامناسب باشد).

هرچه سن‌تان بالاتر برود، کار با کمپیوتر برایتان دشوارتر خواهد شد و انعطاف‌پذیری لنزهای طبیعی چشم کمتر و کمتر می‌شوند. وقتی به حول‌وحوش ۴۰ سالگی برسید، به‌مرورزمان توانایی تمرکز بر اشیای دور و نزدیک را هم از دست خواهید داد. متخصصان به این عارضه «پیرچشمی» می گویند.

**نشانه‌های سندرم بینایی کمپیوتری**

هنوز شواهدی در دست نیست که تأیید کند استفاده از کمپیوتر چشمانمان را درگیر آسیب‌های بلندمدت می‌کند. اما استفاده منظم از کمپیوتر ممکن است پیامدهایی مثل افزایش خستگی و فشار بر چشم‌ها ایجاد کند.

در ادامه می‌توانید تعدادی از نشانه‌های رایج سندرم بینایی کامپیوتری را ببینید:

تاری دید؛
دوبینی؛
سرخی چشم و خشکی آن؛
التهاب یا سوزش چشم؛
سردرد؛
درد گردن یا کمردرد.

اگر نشانه‌های سندرم بینایی کمپیوتری را داشته باشید ولی فکری برای درمان نکنید، فقط چشم‌هایتان آسیب نمی‌بینند؛ بهره وری کاری شما نیز تحت تأثیر قرار خواهد گرفت.

**راهکارهای درمان سندرم بینایی کامپیوتری**

با انجام چند تغییر کوچک در محیط کارتان می‌توانید نشانه‌های این سندرم را برطرف کنید و از بروز ناراحتی‌ها و عارضه‌های چشمی دیگر نیز پیشگیری کنید. در ادامه خواهیم گفت چطور می‌توانید این کار را انجام دهید.

**با ازبین‌بردن تابش‌های خیره‌کننده نور**

با انجام تغییراتی در روشنایی محیط اطرافتان می‌توانید تأثیر بد نور صفحه نمایشگر بر چشمانتان را کمتر کنید. مثلاً اگر پنجره‌ای در اطرافتان هست که نور را منعکس می‌کند و تابش خیره‌کننده‌ای ایجاد می کند، میز کارتان را جابه‌جا کنید و پرده را بکشید. اگر چراغ‌های سقفی بیش از حد نورانی هستند، از کارفرمایتان بخواهید چیزی رویشان نصب کند تا کم‌نورتر شوند. همچنین می‌توانید به‌جای چراغ سقفی، از چراغ‌های رومیزی استفاده کنید.

راهکار دیگر این است که از فیلترهای مخصوص جذب تابش‌های خیره‌کننده بر روی نمایشگرتان استفاده کنید.

**با تنظیم مناسب موقعیت میز کار**

بهترین موقعیت برای نمایشگر کمپیوتر آنجایی است که اندکی پایین‌تر از زاویه چشم‌ها قرار بگیرد و تقریبا بین ۵۰ تا ۷۰ سانتی‌متر از صورتتان فاصله داشته باشد. برای دیدن اطلاعاتی که در صفحه نمایشگر هستند، نباید گردنتان را بکشید یا چشم‌هایتان را باریک کنید و به آنها فشار وارد کنید.

توصیه دیگر این است که یک نگهدارنده مدارک تهیه کنید و کنار نمایشگرتان قرار دهید. به‌این‌صورت دیگر مجبور نخواهید بود که برای خواندن مقالات و مدارک به پایین نگاه کنید و دوباره برای دیدن نمایشگر سرتان را بالا بگیرید.

**با استراحت‌دادن‌های گاه‌به‌گاه به چشم ها**

برای انجام این کار می‌توانید از قانون ۲۰-۲۰-۲۰ استفاده کنید: به این صورت که هر ۲۰ دقیقه یک بار، به‌مدت ۲۰ ثانیه به شیئی در فاصله ۲۰فوتی (٦ متری) نگاه کنید. هنگام نگاه کردن به صفحه نمایشگر، حواستان به پلک‌زدن باشد و سعی کنید بیشتر پلک بزنید تا چشم‌ها مرطوب بمانند. اگر احساس می کنید بیش از حد خشک شده‌اند، از قطره‌های استریل اشک چشم استفاده کنید.

**با تغییردادن تنظیمات نرم‌افزارهایی که از آنها استفاده می کنید**

دقت کنید که حتما قرار نیست نرم‌افزارها و چیزهای دیگر در کامپیوتر بر روی تنظیمات پیش‌فرضشان باشند. با تغییردادن اندازه فونت، روشنایی و موارد دیگر، تنظیمات مناسب برای خودتان را پیدا کنید.

**کلام آخر**

در دنیای امروز، بیشتر ما بنا به ضرورت‌های کاری و شخصی، بخش قابل‌توجهی از روز را صرف نگاه‌کردن به نمایشگر کمپیوترها و دیگر دستگاه‌های دیجیتالی می کنیم. بنابراین، متأسفانه گریزی از ناراحتی‌های چشمی ناشی از این عادت‌های کاری و شخصی نخواهد بود. اما می‌توان با به‌کارگیری توصیه‌ها و راهکارهای ساده‌ای علائم و نشانه‌های سندرم بینایی کمپیوتری را بهبود داد.

## بشري حقونو کمېسیون: د سولې په پروسه کې دې د جگړې د قربانیانو استازو ته هم ځای ورکړل شي

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون وايي چې د سولې په روانه پروسه کې دې د جگړې د قربانیانو استازو ته هم ځای ورکړل شي.

دغه کمېسیون ټینگار کوي چې د جگړې قربانیانو دې له پامه نه غورځول کېږي او په دې تړاو دې له ملي مشورې وروسته دوی ته هم په دې پروسه کې ځای ورکړل شي.

د بشري حقونو د اطلاعاتو رییس ذبیح الله فرهنگ زیاتوي: «د جگړې قربانیان دې له دواړو ټیمونو سره خپلې غوښتنې شریکې کړي او دوی (دواړه ټیمونه) اړ دي چې دغه غوښتنې ومني».

په ورته وخت کې د سولې په چارو کې د دولت وزارت ویانده ناجیه انوري وايي چې حکومتي اړخ هڅه کوي ترڅو د سولې په روانه پروسه کې په ښه ډول د جگړې د قربانیانو استازولي وکړي. نوموړې زیاتوي: «د دولت هڅه داده ترڅو د سولې یوې داسې هوکړې ته ورسېږو چې په هغې کې د جگړې د ټولو قربانیانو حقونه خوندي وي».

په ورته وخت کې د جگړې د قربانیانو کورنۍ هم نیوکه کوي چې دوی ته د سولې په روانه پروسه کې هېڅ ونډه نه ده ورکړل شوې. دوی دغه راز وايي چې ښکېلې خواوې دې په هېواد کې روان تاوتریخوالی پای ته ورسوي او ژر تر ژر دې اوربند وکړي.

د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون دا غوښتنه داسې مهال مطرح کېږي چې د مشورتي لویې جرگې تر پرېکړې وروسته د پاتې ۴۰۰ طالب زندانیانو د خوشې کېدو پروسه هم پیل شوې. د راپورونو له مخې، ټاکل شوې چې د زندانیانو تر خوشې کېدو وروسته به د قطر په پلازمېنه دوحه کې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د سولې بین الافغاني خبرې پیلېږي.

## د ملکي هوايي چلند اداره: د کرونا ویروس له کبله مو ۴۰ میلیونه ډالر تاوان کړی

د ملکي هوايي چلند اداره وايي چې په روان زېږدیز کال کې یې د کرونا ویروس د خورېدو او په هوايي چلند د بندیزونو له کبله ۴۰ میلیونه ډالر تاوان کړی دی.

د دغې ادارې مشر قاسم وفایي وايي چې په دغو زیانونو کې د افغانستان دوو هوايي کام ایر او اریانا افغان هوايي شرکتونو نږدې دری میلیون ډالر تاوان کړی دی.

نوموړي تېره ورځ په یوې خبري ناستې کې وویل: «د هغه مالي هدف په پرتله چې موږ ته د عوایدو په برخې کې ټاکل شوی و، د کرونا ویروس د خورېدو له امله مو ۴۰ میلیونه ډالر په عوایدو کې لړوالی راغلی دی.»

خو نوموړي زیاته کړه چې په هېواد کې د کرونا ویروس د خپرېدو له امله د لگېدلي کرنتین په جریان کې له محدودیتونو سره سره، شاوخوا ۲۲۲ کورنۍ الوتنې ترسره شوي او څه باندې ۴۴ زره مسافر له یوه ولایت څخه بل ولایت ته لېږدول شوي دي.

هغه زیاته کړه: «د لگول شوي قرنطین پر مهال، د ۴۱۲ بهرنیو الوتنو په ترڅ کې څه باندې ۷۵ زره افغانان د سیمې له هېوادونو څخه افغانستان ته لېږدول شوي دي.»

د وفایي په خبره، یو کال مخکې کله چې د هند او پاکستان ترمنځ د سیاسي جنجالونو له کبله د پاکستان فضا د افغانستان پر مخ وتړل شوه، دغې ادارې ۳۰ میلیونه ډالر تاوان کړی و. د ملکي هوايي چلند ادارې مشر وايي، نړیوال هوايي چلند د کرونا ویروس د خورېدو له امله خورا زیانمن شوی دی. د هغه په وینا، د نړیوالو څېړونو پر بنسټ په ۲۰۲۰ ز کال کې په ټوله نړۍ کې د هوايي چلند کاروبار لږ تر لږه ۲۰۰ میلیارده ډالر تاوان کړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې په افغانستان کې د کرونا ویروس تر خپرېدو وروسته په دغه هېواد کې کورنۍ او بهرنۍ الوتنې ټکنۍ شوې او وروسته د څه مودې لپاره په ټپه ودرېدلې.

ترکش ایرلاین او د متحد عربي اماراتو شرکتونو څه موده مخکې افغانستان ته د خپلو پروازونو پیلولو خبر ورکړ، خو ترکش ایرلاین بېرته خپل پروازونه وځنډول.

مسير
ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۹ د زمري ۲۶مه | د ۲۰۲۰ د اګسټ ۱٦مه | ۵۸۱یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۵ | ۳۷ | ۳۹ | ۳۷ | ۳۹ | ۳٤ |
| ۱۸ | ۱۹ | ۲۱ | ۲۰ | ۲۲ | ۲۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۴۵ | لمر ختل ۰۵:۱۵ | ماسپښین ۱۱:۵۸ | مازیګر ۰۳:۴۰ | ماښام ۰٦:۴۰ | ماخوستن ۰۸:۱۲

## نړۍ



د امریکا د پرېکړه‌لیک ردول؛

## امنیت شورا پر ایران د وسلو د بندیز غځولو په تړاو د امریکا پرېکړه‌لیک په غوڅ اکثریت رد کړ

۳

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې له ۲۱ میلیونو واوښتې


د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې له ۲۱ میلیون واوښتې. د دغو شمېرو پر اساس د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله ۷٦۴ زره او ۱۱۲ کسان مړه شوي او له ۱۴ میلیونو ډېر ترې ببرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه لاهم د کرونا د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې پنځو نیمو میلیونو ته رسېدلي. دغه راز د یاد ویروس له کبله ۱۷۱ زره او ۵٦۸ امریکایان مړه شوي دي.

له امریکا وروسته برازیل د درې میلیونه او ۲۷۸ زره او ۸۹۵ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، هند د دوه میلیونه او ۵۳۰ زره او ۹۴۳ مثبتو پېښو په درلودو سره درېیم، روسیه د ۹۱۷ زره او ۸۸۴ مثبتو پېښو له کبله څلورم او جنوبي افریقا د ۵۷۹ زره او ۱۴۰ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ پنځم هېواد دی چې د دغه ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

په همدې ډول پېرو، مکسیکو، کولمبیا، چیلي او هسپانیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## راپورونه: امریکا د ایران د تېلو هغه څلور ټانکرونه نیولي چې وېنزویلا ته یې تېل لېږدول



د راپورونو له مخې، د امریکا متحدو ایالتونو د تېلو هغه څلور ټانکرونه ضبط کړي چې له ایران څخه وېنزویلا ته پر لار وو. په ورته وخت کې د امریکا د عدلیې وزارت ویلي چې دا د حکومت له‌خوا د ایران د تېلو تر ټولو لویه اندازه ده چې ضبطېږي.

دغه وزارت په یوه اعلامیه کې ویلي، د امریکا د قانون د تنفیذ ځواکونو هغه بار وړونکي ټانکرونه نیولي چې د اټکل له مخې یو میلیون او یو لک او ۱٦ زره بېرله تېل‌یې لېږدول. د یاد وزارت په حواله، دغه تېل د ایران د سپاه پاسداران انقلاب ځواک اړوند وو او غوښتل یې چې وېنزویلا ته یې ولېږي.

په ورته وخت کې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي چې دغه ټانکرونه د ټکزاس ایالت هیوسټن ښار ته د لېږدول کېدو په حال کې دي. راپورونه وایي، د سپاه پاسداران قدس ځواک د ۲۰۱۸ ز کال له سپټمبر میاشتې راهیسې د امریکا له بندیزونو په سرغړونې د تېلو انتقالات پیل کړي دي. دغه راز د ایران ترڅنګ پر وېنزویلا هم د امریکا له‌خوا بندیزونه لګول شوي دي.

د یادونې ده چې تېر کال هم د امریکا له‌خوا د ایران د تېلو ټانکرونه ضبط شوي وو چې ایران یې په غبرګون کې په هورموزتنګي د امریکا ټانکرونه ونیول.

## وزارت مهاجرین: بیش از ٦۰ هزار مهاجر افغان طی یک ماه گذشته از ایران وارد خاک کشور شده‌اند



٦۳ وزارت امور مهاجرین می گوید که هزار و ۵۱۹ پناهجوی افغان طی یک ماه گذشته سال روان، به‌گونه داوطلبانه و اجباری از ایران به افغانستان عودت کرده‌اند که از این میان ۴۱ هزار و ۹۷۴ تن از مرز اسلام قلعه هرات و ۲۱ هزار و ۵۴۵ تن از مرز میان نیمروز و ایران (میلک) وارد خاک کشور شده‌اند. یافته‌های نمایندگی‌های وزارت امور مهاجرین در مرزهای ایران و افغانستان نشان می‌دهند که بیشترین رقم عودت کنندگان که شمار آنان به ۳۳ هزار و ۱۰۵ تن می‌رسند را افرادی تشکیل می‌دهند که به‌گونه داوطلبانه به‌کشور برگشته‌اند. از میان عودت کنندگان، ۱۰۲ تن دیگر دارای مدرک پناهندگی بوده‌اند.

از سوی دیگر، دومین رقم بلند عودت کنندگان را افرادی تشکیل می‌دهند که به‌گونه اجباری از سوی جمهوری ایران به‌کشور عودت داده شده‌اند؛ شمار مجموعی این افراد به (۲۸ هزار و ٦۲۱) تن می‌رسند. در همین حال، از میان این برگشت‌کنندگان ۲ هزار و ۲٦۰ عودت کننده که از مرز پل ابریشم(میلک) وارد خاک کشور شده بودند تحت پوشش مساعدت‌های بشری ادارات بین المللی قرار گرفته‌اند. این افراد از سوی وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان نیاز سنجی و معرفی شده‌اند.


## ژوند

### مطالعه مو شتمنوي هم



څېړنو ښودلې ده، هغه کسان چې نن شتمن دي، مطالعه یې د ژوند یوه برخه وه او لا هم ده. د مطالعې نه کول په دې مانا دي، چې تاسو اصلاً فکر نه کوی. ۸۸ سلنه شتمن خلک له دې خبرې سره همغږي دي. دوی د ورځې نیم ساعت د خپل کار اړوند، فردي ورتیا، تاریخ او ادبیاتو په برخه کې مطالعه کوي. خو د کمو عوایدو لرونکي کسان یوازې ۲سلنه یې دغه کار کوي. هڅه وکړئ چې ځانونه پر مطالعې روږدي کړئ. تر نیمایي زیات هغه کسان چې نن سبا د ښه کار او کسب خاوندان دي، درې ساعته له نورو مخکې پاڅېږي. دوی خپل دغه درې ساعته وخت ورزش، د ورځنیو پروګرامونو په اړه فکر کولو او دندې ته د تلو لپاره ځان برابرولو ته ورکوي. بریالي خلک لږ تر لږه د ورځې له لسو تر پنځلسو دقیقو پورې وخت مراقبې ته ځانګړی کوي او په آرام ذهن فکر کوي.

### د ګوګل پیاوړې کامرې لرونکی موبایل



ګوګل کمپنۍ له اوږدې مودې څخه غوښتل د ګوګل پکسل۴ ځیرک موبایل ارزان بیه بڼه وړاندې کړي. له څو میاشتو راهیسې د دغه ځیرک موبایل تقریباً ټولې ځانګړنې افشا شوې او څو ځلې کاروونکو ته د وړاندې کېدو نېټه یې وځنډول شوه. خو اوس ګوګل کمپنۍ د یوې غونډې له لارې خپل دغه ځیرک موبایل ۳ مختلفو بڼو کې کاروونکو ته معرفي کړ. د دغه ځیرک موبایل یوه بڼه ۴جي او پاتې دوه بڼې له ۵جي ټکنالوژۍ څخه ملاتړ کوي او له نوې ځانګړنې او ډیزاین سره به خرڅلاو ته وړاندې شي. د ګوګل کمپنۍ د پکسل لړۍ ځیرک موبایلونه د پیاوړې کامرې له امله نړیوال شهرت او بې شمېره مینه‌وال لري او د پکسل۴ دغه ارزان بیه بڼه چې پکسل۴ اې نومول شوې، هم شاتنۍ برخه کې د یوې کامرې په لرلو سربېره ډېر غوره او لوړ کیفیت لرونکي تصویرونه اخلي. ګوګل پکسل۴ اې شاتنۍ برخه کې یوه ۱۲،۲ مېګاپکسله وړتیا لرونکې کامره لري چې ډوول پکسل ټکنالوژي، ایچ ډي ار او او ای ایس څخه هم ملاتړ کوي او د نورو کمپنیو د پیاوړو او ګران بیه ځیرکو موبایلونه په پرتله غوره تصویرونه اخلي.

ماستر ډېټ کارت

د عزیزي بانک ماستر ډېټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو کټه اخیستلی شئ.



www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank